


# پاکستان- د افغانستان

## ترمنځه په سرکاري

رپورټ

**کچ د شوې مذاکرو رفتار او عملدارمد**

دوه زره دیارلسم ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې

پلډاټ
پاکستان انسټیټیوټ آف
لیجسلیټو ډیولپمینټ
اینډ ټرانسپیرینسی

WWW.PILDAT.ORG

# پاکستان د افغانستان
## ترمنځه په سرکاري

رپورټ

**کچ د شوې مذاکرو رفتار او عملدارمد**

دوه زره دیارلسم ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې

پاکستان انسټیټیوټ آف
لیجسلیټو ډویلپمینټ
اینډ ټرانسپیرینسی

**پلډاټ يوه آزاده،غېر جانبداره او بې ګټې د څېړنې او روزنې خپلواکه اداره ده چې مقصد ئې پاکستان کښې جمهوريت او جمهوري ادارې مضبوطول دي.**

پلډاټ د پاکستاني مدني ټولنې د قانون XXI مادې کال اتلس سوه شپېته ترلاندې رجسټر شوې بې ګټې اداره ده.

پاکستان انسټي ټيوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ کاپي رائټ لري
ټول حقونه خوندي ساتي

پاکستان کښې چاپ شوې
دسمبر دوه زره ديارلسم کښې خپور شوې

ISBN: 978-969-558-391-3

د دې کتاب نه اخستې شوې هره برخه بايد چې د پلډاټ د ښکاره حوالې سره اوليکلې ياخپور کړې شي

PILdAT
Pakistan Institute of
Legislative Development
And Transparency

د پاکستان انسټي ټيوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: شميره اووم،نهمه ايونيو، ايف اېټ ون، اسلام آباد، پاکستان
لاهور دفتر:پنځه څلوېښت اے،سېکټر XX، دويم منزل، فېز III کمرشل اېريا، DHA، لاهور
ټېليفون: (51-92+) 345-123-111: فکس (51-92+) 226-3078
اېمېل: ;info@pildat.org وېبپاڼه : www.pildat.org
لخوا خپور شوې

# مواد

لنډ ټکي او اختصار
سرټکي

## پیژندګلو

د چارواکو کتنه: دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې 11
١ ـ ښاغلي سرتاج عزیز دافغانستان د اوبو او برېښنا وزیر سره اولیدل: نهم ستمبر دوه زره دیارلسم ، اسلام آباد 11
٢ ـ د افغانستان پارلیماني پلاوي د پاکستاني سېنټ د چېرمېن سنېټر نېئر حسېن بخاري سره ملاقات اوکړو: څلريشتم ستمبر دوه زره دیارلسم کال، اسلام آباد 12
٣ ـ د پاکستان افغانستان ترانزټ ټرېډ کوارډینشن اتهارټۍ څلورمه ناسته، (APTTCA ): اتم نهم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال، کابل 12
٤ ـ د صلح اعلي شوره پنځه تني پلاوي د چېرمېن صلاح الدین رباني په مشرئ کښې سرتاج عزیز سره اولیدل: نولسم نه تر یووېشتم نومبر کال دوه زره دیارلسم ، اسلام آباد 12
٥ ـ وزیراعظم نواز شریف اسلام آباد کښې د صلح اعلي شوره پلاوي سره خبرې اوکړې:یوویشتم نومبر دوه زره دیارلسم 12
٦ ـ د ریاستي غړو لخوا د تاپي (TAPI) تکنیکل اېډوائزري سروس ایګري منټ (TASA) لاس لیک شوه:یوویشتم نومبر دوه زره دیارلسم ، اشک آباد 13
٧ ـ وزیراعظم نواز شریف کابل کښې د اولسمشر حامد کرزئی سره اولیدل: دېرشم نومبر دوه زره دیارلسم 14
٨ ـ وزیراعظم نواز شریف کابل کښې د صلح د اعلي شوره چېرمېن ښاغلي صلاح الدین رباني سره اولیدل: دیرشم نومبر دوه زره دیارلسم ، 14
٩ ـ د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي جېمز اېف ډوبنز د قامي سلامتی او خارجه چارو دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سره اولیدل، دریم دسمبر دوه زره دیارلسم 14

درې اړخیزه غونډې: دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې 14

١ ـ د **پاکستان ، افغانستان او برطانې** ترمنځه درې اړخیزه غونډه: دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې 14
ـ د پاکستان افغانستان او برطانې ترمنځه څلورمه درې اړخیزه غونډه په یو کم دیرشم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال لندن کښې اوشوه 14

د پاکستان افغانستان ترمنځه نورې ناستې: د دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې 15

١ ـ د پاکستان سېنټ د دفاعي کمېټی پلاوي د سنېټر مشاهد حسېن سید په مشرئ کښې کابل کښې دوه ورځني مصروفیات لرل: نهم لسم ستمبر دوه زره دیارلسم کال 15
٢ ـ د مشرانو جرګې پلاوي د سنېټر سید فرخ شاه جناب په مشرئ کښې دپاکستان دوه ورځنی سفر اوکړ: څلېرشتم پنځویشتم ستمبر دوه زره دیارلسم کال ، اسلام آباد 15

٣ ـ د افغانستان ولسي جرگې پلاوي د پاکستان دوه ورځني سفر کښې د خپلو سیالو سره اولیدل: ړومبي دویم اکتوبر ، دوه زره دیارلسم کال، اسلام آباد 15

٤ ـ جمهور رئېس حامد کرزئی د عوامي نشنل گوند دمشر اسفندیار ولي خان سره کابل کښې اولیدل: لسم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال 16

٥ ـ جمهور رئېس حامد کرزئی د جمیعت علما اسلام گوند دمشر سره کابل کښې اولیدل: یوولسم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال 16

# لنډ ټکي او اختصار

| | |
|---|---|
| APTTA | پاکستان افغانستان ترانزټ ټریډ ایګري منټ (د پاکستان افغانستان ترمنځه تجارتي لوظنامه) |
| COAS | پوځي سر لښکر |
| EU | یورپي یونین \ اروپائي یونین |
| FO | خارجه دفتر |
| GHQ | پوځي سردفتر |
| MoRR | د مهاجرینو او بحالی وزیر |
| MoU | مفاهمتي یاداښت |
| NATO | ناټو |
| NUML | نشنل یونیورسټي فار ماډرن لېنګوېجز \ د جدیدو ژبو ملي پوهنتون |
| NUST | نشنل یونیورسټي فار سائنس اینډ ټېکنالوجي \د سائنس او ټېکنالوجی ملي پوهنتون |
| PAJCCI | د پاکستان افغانستان د تجارت او انډسټرو شریک چېمبر |
| SAFRON | د سرحداتو او ریاستي چارو وزارت |
| SPA | د ستراتجیک مېستو لوظنامه |
| SSAR | د افغان کډوالو بېرته ستنېدو دپاره کړنلاره |
| UNHCR | د کډوالو دپاره د ملګري ملتونو اداره |
| CASA-1000 | مرکزي آسیا، سوئیلي آسیا (د برېښنا پروژه) |
| HPC | د صلح اعلي شوره |
| ISAF | نړیوال صلح ساتونکي ځواکونه |
| TAPI | ترکمانستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان ګېس پائپ لائن |
| TASA | د تکنیکي مشاورت لوظنامه |
| JUI-F | جمېعت علما اسلام ، فضل الرحمان |
| ANP | عوامي نشنل ګوند |
| APTCCA | افغانستان پاکستان ترانزټ ټریډ کوارډینېشن اتهارټي |
| PKMAP | پختونخواملي عوامي ګوند |
| SRAP | د افغانستان پاکستان دپاره ځانګړی استاذی |
| KP | خېبر پختونخوا |

# سرټکي

د پاکستان افغانستان ترمنځه په سرکاري کچ شوې ناستو رفتار او عملدرامد د ستمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره دیارلسم پورې د دوانړوهیوادونو ترمنځه تعلقاتو ښه کولو کښې اهمې لاس ته راړنې او پرمختګ کړېدې.

دا راپور د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو ترمنځه د کېدونکې یوولسمې ناستې د کړنلارې ټاکلو په غرض تیار کړې شوې دې کومه چې به د پلډاټ په مرسته دوه زره دیارلسم کال دسمبر میاشت په اوولسمه او اتلسمه نېټه کابل ، افغانستان کښې ترسره کېږي.

دې راپور کښې د ستمبر نه تردسمبر میاشت پورې په سرکاري کچ شوې ملاقاتونو د رفتار او عملدرامد یو خاموش انځور وړاندې کړې شوېدې.پلډاټ د دوانړو غاړو د پارلیماني غړو دملاقاتونو د شامنظر دپاره وخت په وخت دا قسمه راپورونه تیار کړیدي چې ورسره باید د دوانړو ګاونډې ملکونو دپلومېټې تعلقات مضوبوط شي.

## لاتعلقي

پلډاټ ډلې د دې راپوردپاره د موادو راټولو لړ کښې خپل پوره پوره کوشش کړېدې چې دا صحیح وي. او دې کښې دکېدونکې هېڅ قسمه غلطی، کوتاهی زمه واري نه اخلي

اسلام آباد
دسمبر دوه زره دیارلسم

# پيژندګلو

د دوه زره ديارلسم کال ستمبر مياشت نه تردې دمه د پاکستان او افغانستان چارواکو ترمنځه يو شمير ملاقاتونه شويدي چې پکښې د پاکستاني وزيراعظم نواز شريف او افغانستان د جمهور رئيس حامد کرزئ ترمنځه درې ملاقاتونه هم شامل دې کوم چې پرله پسې په اسلام آباد،لندن او کابل کښې شوي

په يو شمير موقعو د افغانستان د امن، سلامتی او استحکام دپاره دعزم ځرګندوني شوي او د سيمه ايز امن لړ کښې د خپلو مرستو دپاره هم آواز پورته کړې شويدې.

د پاکستان خارجه دفتر په خپلو خبرونو کښې مسلسل په دې خبره ټينګار کړې چې د مفاهمتي عمل لړ کښې به دحکومت مرسته او کمک ورسره وي کوم سره به چې افغانستان کښې امن او ثبات راشي.

د قامي سلامتی او خارجه چارو دپاره د وزيراعظم صلاحکار سرتاج عزيز دوه زره ديارلسم کال کښې د پاکستان افغانستان ترمنځه د تعلقاتو ښه کېدو په اړه وئيل وو "افغانستان کښې درې بدلونونه راروان دي، د امنيتي،سياسي او اقتصادي بدلونونه.نو ځکه پاکستان غواړي چې افغانستان سره خپل تعلقات ښه اوساتي او په هر جوړ د افغانستان سره مرسته اوکړي."

دا اوس اوس په ديرشم نومبر دوه زره ديارلسم کال کابل ته د خپل سفر دوران د پاکستان وزيراعظم نواز شريف په خپل خطاب کښې وئيلي وو يو باثباته او پرامن افغانستان د پاکستان او ټولې منطقې په ګټه دې. نواز شريف سره د شريکې خبرې غونډې دوران د افغان اولسمشر حامد کرزئ وېنا وه "دوه زره څوارلسم او دهغې روستو افغانستان کښې د تل پاتې امن او صلحې کنجي يوازې پخه سياسي مضبوطياده.زه ټولو برخه ايزو ته وايم چې دې مقصد دپاره يو موټې شي.پاکستان به د افغانستان امنيتي عمل لړ کښې خپله پوره پوره مرسته کوي. "

له دوانړو غاړو په يو بل د تورونو الزامونو لړئ هم دوام لري لکه دپولې يوخوا بلخواد سېکورټي فورسز له اړخه په يو بل د توغنديو او توپخانې ګولی ويشتل،په پاکستان تورونه چې ګني افغان طالبان د پاکستان په واک کښې دي او دا ئې په افغانستان ورپريښي دي،د افغان چاروکو تور چې ګني پاکستان د افغانستان کښې خپله برخه غواړي يا دا خپل جاګير ګڼي.حالانکه دې دوران بعضې ښه ځيزونه هم په نظر راغلي دي لکه د دوانړو ملکونو لخوا د يو بل په ملک کښې د ترهه ګرئ بريدونه غندنه، او دا يوه ښه اشاره ده؛

دافغانستان لويه جرګه چې پکښې سين روبي، مشران، د سياسي جماتونو خلق او قبائلي مشران ناست وو،په پنځه ويشتم نومبر دوه زره ديارلسم کال ئې د امريکې سره د دوه اړخيزه امنيتي تړون منظوري ورکړه.دې لوظنامه کښې د افغان حکومت هغه غوښتنه نه ده منل شوې چې پکښې وئيل شويدي که بل يو ملک خصوصاً پاکستان په افغانستان يرغل اوکړو نو په شريکه به ئې مخ نيوي کوي.د دغې لوظنامې مسوده وائې امريکا به خارجي يرغل ته د زياتې انديښنې په نظر ګوري او د دوه زره څوارلسم روستو به افغانستان ته د پوځې دهړکو په سختۍ سره مخالفت کوي.[1]

امريکا اراده لري چې دوه زره څوارلسم پائې پورې افغانستان نه زياتره جنګي قواء اوباسي. د دوه اړخيزه لوظنامې ترمخه به دوه زره خليرشتم پورې افغانستان کښې د اته زرو نه تر دولس زرو پورې امريکائې عسکر پاتې وي.دوي به د ترهه ګرئ ضد کاروايو کښې،د لټون عملياتو کښې برخه اخلي او هم به د افغانستان دفاعي ځواکونو روزنه کوي.کله چې په امنيتي لوظنامه خبرې اترې شورو شوې نوهغه وخت افغان اولسمشر حامد کرزئی غوښتل امريکا سره يو پوره دفاعي لوظنامه اوکړي چې پکښې داهم وي که د بل ملک لخوا او خصوصاً د پاکستان له اړخه څه قسمه پوځي يرغل کيږي نو امريکا به هم د هغې ځواب ورکوي.

د دي راپور ړومبی برخه د دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت نه تر دسمبر میاشت پورې د دوانړو ملکونو عملدرامد او رفتار جاج اخلي.دې برخه کښې د دوانړو ملکونو د اعله چارواکو او لوړ پوړو ترمنځه شوي ملاقاتونه په ګوته کړې شویدي.

دوه برخه کښې هم په ذکر شوې موده کښې د پاکستان افغانستان او برطانیې ترمنځه شوي درې اړخیزه ملاقاتونه بیانوي.
دریمه برخه کښې د دوانړوملکونو د غیر سرکاري خلقو او ملاقاتونو احوال بیان کړې شوېدې.

# پاکستان افغانستان سرکاري چارو اکو ترمنځ شوي ملاقاتونو عملدرامد اورفتارجاج

ستمبر دوه زره ديارلسم نه تر دسمبر دوه زره ديارلسم پورې په سرکاري کچ شوي ملاقاتونه ښاغلي سرتاج عزيز د افغانستان د اوبو او برېښنا وزير سره ملاقات:نهم ستمبر دوه زره ديارلسم، اسلام آباد[1]

د قامي سلامتی او خارجه چارو دپاره د وزيراعظم صلاحکار سرتاج عزيز او د افغانستان د اوبو او بجلی وزير ښاغلي محمد اسماعيل د ملاقات دوران په کاسا ۱۰۰۰ منصوبه خبرې اترې اوکړې.دې دوران د نړيوال بېنک د سوئيلي آسيا دپاره ډائريکټر ښاغلي سلمان ظهير هم موجود وو.روستو ښاغلي سلمان ظهير په شپاړسم اوولسم ستمبر شوي اسلام آباد کښې د کونسل غونډې احوال تېر کړو چې پکښې د تاجکستان،کرغزستان،افغانستان او پاکستان وزيرانو د خپلو خپلو ملکونو نمائندگي کړې وه، دغه غونډه کښې په کاسا ۱۰۰۰ منصوبه غور شوې وو.

د افغانستان د برېښنا او اوبو وزيرښاغلي محمد اسماعيل وينا وه چې يو ځل کاسا ۱۰۰۰ منصوبه سرته اورسېده نو دې سره به سوئيلي آسيائي ملکونه په اقتصادي او سياسي ميدان کښې يو بل ته نور نزدې شي.د ښاغلي سرتاج عزيز وينا وه چې د کاسا ۱۰۰۰ منصوبې نه زياتې ګټې ترلاسه کولو دپاره ضروري ده چې دغه لړ کي نوره ژوره څېړنه او لوسته اوکړې شي.کاسا ۱۰۰۰ منصوبه هيله ده دوه زره اوولسم پورې سرته اورسي.

ړومبی نقشه:د پاکستان افغانستان ملاقاتونو فهرست (ستمبر نه دسمبر دوه زره ديارلسم)

| شميره | ملاقات | نېټه | ښار، ملک |
|---|---|---|---|
| I. | ښاغلي سرتاج عزيز د افغانستان د اوبو او برېښنا وزير سره ملاقات | نهم سمتبر دوه زره ديارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| II. | افغان پلاوي د پاکستاني سېنټ چېرمېن سيد نېئر حسېن بخاري سره اوليدل | څليرشتم سمتبر دوه زره ديارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| III. | د پاکستان افغانستان ترانزټ ټريډ کوارډينشن اتهارټۍ څلورمه غونډه (APTCCA) | اتم ، نهم اکتوبر دوه زره ديارلسم | کابل ، افغانستان |
| IV. | دافغانستان د صلحي اعلي شوره پلاوي د ښاغلي سرتاج عزيز سره اوليدل | يوويشتم نومبر دوه زره ديارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| V. | وزيراعظم ښاغلي نواز شريف د صلحي د اعلي شوره سره خبرې اترې | يوويشتم نومبر دوه زره ديارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| VI. | د غړي ملکونو لخوا د تاپي تېکنيکي لاربښودنه لاس ليک شوه | يوويشتم نومبر دوه زره ديارلسم | آشک آباد، ترکمانستان |
| VII. | وزيراعظم نواز شريف د اولسمشر حامد کرزئی سره اوليدل | ديرشم نومبر دوه زره ديارلسم | کابل ، افغانستان |
| VIII. | وزيراعظم نواز شريف د صلحي اعلي کونسل د چېرمېئن سره اوليدل | ديرشم نومبر دوه زره ديارلسم | کابل ، افغانستان |
| IX. | ښاغلي جيمز ايف ډوبنز د خارجه چارو دپاره د وزيراعظم د صلاحکار سره اوليدل | دريم دسمبر دوه زره ديارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |

1. US-Afghan Deal excludes joint action against Pakistan, November 21, 2013 http://www.dawn.com/news/1057736/us-afghan-deal-excludes-joint-action-against-pakistan

## د افغانستان پارلیماني وفد د پاکستاني سنېټ د چېرمېن سنېټر نېئر حسېن بخاري سره اولیدل: څلیرشتم ستمبر دوه زره دیارلسم کال، اسلام آباد

د افغانستان پارلیماني وفد د پاکستاني سنېټ د چېرمېن سنېټر نېئر حسېن بخاري سره اولیدل.دې دوران خپلو خبرو کښې ښاغلي بخاري اوویئل پاکستان افغانستان بعضې ننګونې لري او ددې د حل دپاره به دوانړو له شریک کوششونه کول وي."اولسي نمائندګان دې لړ کښې مهم کردار لوبولې شي"، ده زیاته کړه.چېرمېن هیله څرګنده کړه چې د وفودو دورو سره دوانړه ملکونه کولې شي خپل مرام ته اورسي او هدفونه ترلاسه کړي.
د پاکستان افغانستان د فرېنډ شپ اېسوسي اېشن د جوړښت په حقله د ده وینا وه چې دې سره به د دوانړو ملکونو اولسونو ته ګټه اورسي.د افغان پلاوي مشر سنېټر فرخ شاه فاریابي د مسلو د مستقل حل دپاره دوانړو ملکونو ترمنځه په مذاکرو زور راوړو.د ملاقات په وخت د سېنټ ډپټي چېرمېئن صابر علي بلوچ، سنېټر مشاهد حسېن سید، سنېټر افراسیاب خټک، او سېنټر ډاکټر محمد جهانګیر بدر هم موجود وو.

### د پاکستان افغانستان ترانزت ټرېډ کوارډینشن اتهارټي(APTTCA) څلورمه غونډه: اتم نهم اکتوبر دوه زره دیارلسم، کابل[2]

**د پاکستان افغانستان ترانزت ټرېډ کوارډینشن اتهارټي(APTTCA) څلورمه غونډه د اکتوبر په اتمه او نهمه نېټه دوه زره دیارلسم کال کابل کښې اوشوه چې پکښې د ترانزت لوظنامې عملي کولو او په دغه اړه پېښو اندېښنو او معاملو غور اوشو.**

د غونډې پرانسته د افغانستان د تجارت او کارخانو ډپټي وزیر ښاغلي مزمل شنواري او د پاکستان لخوا د تجارت وزارت سېکټر ښاغلي قاسم محمد نیاز په شریکه اوکړه.

## د صلحې د اعلي کونسل د چېرمېن ښاغلي صلاح الدین رباني په مشر کښې یو پنځه تني پلاوي اسلام آباد کښې دسرتاج عزیز سره اولیدل: نولسم نه تر یوویشتم نومبر دوه زره دیارلسم دوران[3]

د صلح د اعلي شوره د مشر ښاغلي صلاح الدین رباني په مشرئ کښې یو پنځه تني پلاوي د پاکستان سفر اوکړو اودلته ئې د پاکستاني مشروالئ سره په امن عمل خبرې اترې اوکړې.پاکستان کښې دخپلې درې ورځنۍ اېسارتیا دوران دغه پلاوي د وزیراعظم نوازشریف سره،او د قامي سلامتئ او خارجه چارو دپاره د وزیراعظم د صلاح کار سرتاج عزیز سره اولیدل.د خبرو اترو ټوله پاملرنه افغانستان کښې د مفاهمتي او جوړ جاړي عمل تیزولو ته وه.دا دوره دپاکستان او صلح د اعلي شوره دملاقاتونو تسلسل دې چې مقصد ئې افغانستان کښې امن او مفاهمتي عمل تیزول دي.

## وزیراعظم نواز شریف اسلام آباد کښې د افغان امنیتي کونسل سره اولیدل: یوویشتم نومبر دوه زره دیارلسم[4]

د افغانستان د صلح اعلي شوره دمشر صلاح الدین رباني په مشرئ کښې یو پلاوي اسلام آباد کښې دوزیراعظم نوازشریف سره اولیدل اوورسره ئې جنګ زپلي ګاونډي ملک کښې په روان امن عمل خبرې اوکړې.دې دوران د خارجه چارو او قامي سلامتئ دپاره دوزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز او خصوصي مرستیال طارق فاطمي هم موجود وو چا چې د سیمه ایزې سلامتئ، خپل منځي مرستو او افغانستان نه د امریکائي قواوو دوتو روتسو په صورتحال خبرې اوکړې.

د وزیراعظم وینا وه چې مستحکم افغانستان د پاکستان په مفادو کښې دي، ده زیاته کړه چې پاکستان به د سیمه ایز امن او قلاري لړ کښې د افغانستان مرسته جاري ساتي.ښاغلي نواز شریف افغان پلاوي ته اوویئل"پاکستان تل د یو پرامنه،مستحکم او متحد افغانستان مرسته کړېده او پاکستان د افغانستان مفاهمتي عمل کښې مثبت او تعمیري کردار ترسره کوي."

2. Aziz, Afghan Minster discuss CASA-1000 Project, Daily Times, September 19, 2013 http://www.dailytimes.com.pk/default.asp?page=2013%5C09%5C19%5Cstory_19-9-2013_pg5_7
3. Afghan Parliamentary delegation call on Bukhari, Associated Press of Pakistan, September 24,2013 http://www.app.com.pk/en_/index.php?option=com_content&task=view&id=241186&Itemid=2
4. 4th Meeting of Transit Trade Coordination Authority (APTCCA) October 08-09, 2013 http://www.pajcci.com/Downloads/APTTCA%20meeting.pdf

## غړي ملکونو د تاپي (TAPI) تکنیکي مرستو لوظنامه (TASA) لاس لیک کړه:یوویشتم نومبر دوه زره دیارلسم، آشک آباد[5]

**د تاپي ګېس پائپلائن غړي ملکونو نمائندګانو چې پکښې ترکمانستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان شامل وو د ځليرشتمې غونډې دوران آشک آباد کښې د تکنیکي مرستو لوظنامه (TASA ) لاس لیک کړه، دا غونډه د ترکمانستان د تېل او ګېس په وزارت کښې په شلم او یوویشتم نومبر تابیا شوې وه.**

**غونډه کښې دپاکستان ډلې مشري د انټر سټېټ ګېس سسټم (ISGS) منجنګ ډائریکټر ښاغلي مبین صولت کوله دغه رنګ افغان پلاوې نمائندګي دمعدنیاتو او پېټرولیم نائب وزیر ښاغلي ناصر احمد دراني او آشک آباد کښې د افغانستان سفارت یو چارواکي کوله.دې دوران ښآغلي ناصر احمد دراني په تاپي ګېس منصوبه عملدرامد تسله ښکاره کړه او دغه لړ کښې ئې د نړیوال بېنک لخوا په تکنیکي مرستو کولو د هڅوې ستائنه اوکړه.ده ژمنه اوکړه چې د منصوبې عملي کولو لړ کښې به افغانستان خپله مرسته جاري ساتي.**

**ټولو ډلو په دې هم اتفاق اوکړو چې باید آسیائي ترقیاتي بېنک دې د پروژې د سېکټریټ په حېث خپل کار جاري ساتي.سکټریټ ژمنه اوکړه چې د نهه ویشتم نومبر پورې به د آپریشن ایګریمنټ \کار شورو کولو لوظنامې ټوله کاغذي کاروائي پوره کړي او ټولو ډلو ته ئې اووئیل چې دمنظورۍ روستو دې دا لاس لیک کړي.**

**د آپریشن ایګریمنټ لاس لیکنه د دې منصوبې عملي کېدو اړخته اهم ګام دې. غړو ملکونو د دې خبرې سره هم اتفاق اوکړو که یو ملک (افغانستان، پاکستان یا هندوستان) اضافي ګېس اغستل غواړي نو باید چې خرڅونکي ملک (ترکمانستان) اته ځلویښت ګهنټې مخکښې خبر کړي چې داشان هغه د دوې دپاره ضروري انتظام اوکړي.د ملاقات دوران د ګېس مقدار او نورو اجزاء لکه سلفر وغیره په مقدار هم خبرې اوشوې.**

**دې دوران په یو بله غونډه کښې پاکستان او ترکمانستان GSPA کښې د ګېس په مقدار خبرې اوکړې. ترکمانستان ژمنه اوکړه چې د دسمبر دوه زره دیارلسم پورې به ټولو غړو ملکونو ته کنسورشیم فهرست واستوې.**

## وزیراعظم نواز شریف د افغانستان جمهور رئیس حامد کرزئی سره اولیدل:دیرشم نومبر دوه زره دیارلسم، کابل[6]

دافغان اولسمشر حامد کرزئی په بلنه وزیراعظم نواز شریف په دېرشم نومبر دوه زره دیارلسم کال د افغانستان سفر اوکړو.نواز شریف سره د اعله پائې وفد هم وو چې پکښې د خارجه چارو او قامي سلامتی دپاره صلاحکار سرتاج عزیز، خصوصي مرستال طارق فاطمي، محمودخان اچکزئی (د بلوچستان نه د قامي اسمبلی غړې) خارجه سکېتر، د پلاننګ اوډویلپمنټ سکېتر او نور لوړ پوړي شامل وو.

د خپلې دورې دوران وزیراعظم د افغان اولسمشر سره اول یو په یو او بیا د وفودو په کچ ملاقات اوکړو.روستو دوانړو مشرانو یوې شرېکې خبري غونډې ته هم خطاب اوکړو.افغان اولسمشر روستو دوزیراعظم په درناوي کښې د ماسپخین مېلمستاهم ورکړه چې پکښې د افغانستان دکابینې غړو،دمختلفو تپو سره تعلق لرونکو او کابل کښې ډپلومېټې غړو هم ګډون اوکړو.ملاقاتونه ډېر په ښه او دوستانه چاپېریال کښې اوشو.دوانړو لاربښودانو ښه په آزاده او ژوره توګه په خپل منځي تعلقاتو، دافغانستان په مفاهمتي عمل په سیمه ایز صورتحال خبري اترې اوکړې په خاص توګه دوه زره څوارلسم کښې د افغانستان نه د ناټو او ایساف قواوو د وتو روستو په پیدا کېدونکي صورتحال.

نواز شریف دخپل دریځ ګردان اوکړو چې دافغانستان امن او سلامتي دپاکستان په ګټو ده.ده دافغانستان امن او مفاهمتي عمل کښې د پاکستان د مرستو عزم تکرار کړو.د ده وینا وه د افغانستان د مسلي پوخ هواري دپاره دغلته سیاسي استحکام ضروري دې.

وزیراعظم د ترهه ګرۍ او انتهاپسندۍ خلاف جنګ لړ کښې دپاکستان کردار په ګوته کړو کومه چې د دوانړوملکونو او ټولې منطقې دپاره لوئې چېلنج دې.ده حامد کرزئی ته تسله ورکړه چې پاکستان به د افغانستان د مرستو دپاره ټوله سیمه هڅوي. وزیراعظم په نړیوالې رورولۍ هم ټینګار اوکړو چې د افغانستان بیاودانۍ او

5. Afghanistan's High Peace Council (HPC) members visit Pakistan, Associated Press of Pakistan, November 21,2013 http://www.app.com.pk/en_/index.php?option=com_content&task=view&id=250588&Itemid=1
6. PM holds talks with Afghan Peace Council delegates, Daily Dawn, November 21,2013 http://dawn.com/news/1057636/pm-holds-talks-with-afghan-peace-council-delegat

معاشي استحکام لړ کښې خپل کردار جاري اوساتي.
دې دوران افغان اولسمشر پاکستان سره دخپلو تعلقاتو په اهمیت رڼا واچوله  او وې وئیل چې د ترهه ګرۍ او انتهاپسندۍ په رنګ چېلنج نه وتو دپاره خپل منځي مرستو ته دوام ورکول ضروري دي.اولسمشر د افغانستان مفاهمتي عمل کي دپاکستان د کردار اهمیت په ډاګه کړو او تر دې دمه ئې د پاکستان لخوا ترسره کړي کردار ستائنه اوکړه.
د افغانستان روڼو سره د مرستو او خواخوږۍ په خاطر وزیراعظم د افغانستان د بیا ودانۍ او اقتصادي ترقۍ دپاره د پاکستان امداد د دري سوه پنځه اتیا ملینه ډالرو نه په زیاتولو پنځه سوه ملینه کولو اعلان هم اوکړو.
په دې خبره هم اتفاق اوشو چې د پاکستان افغانستان ترمنځه رابطي زیاتول پکار دي چې پکښې  د پېښور او کابل ترمنځه د موټروې په ذریعه او پېښور جلال آباد او چمن ،سپین بولدک ترمنځه د ریل په ذریعه. دواړو غاړو ژمنه اوکړه چې د کاسا ۱۰۰۰ او تاپي ګېس پائپ لائن په ګډون به ټولې سیمه ایزې پروژې تیزولې شي.
د وزیراعظم وینا چې د پاکستان افغانستان ترمنځه به په هر کچ تعلقات نور مضبوطولې او زیاتولې شي. د ده په وېنا دوه اړخیزه تعلقات په مضبوط تجارتي او اقتصادي اړیکو سره نور ښه کېدې شي.افغان ډلې هم ددې خبرې سره اتفاق اوکړو چې دوه اړخیزه تعلقات د خپل منځي تجارت زیاتولو، اقتصادي مرستو ، سیمه ایزو منصوبو او رابطو سره نور ښه کېدلې شي. دواړومشرانو ژمنه اوکړه چې دوه زره پنځلسم پورې به خپل منځي تجارت پنځه اربه ډالرو ته رسوي.

## وزیراعظم نوازشریف د صلح اعلي شوره د مشر ښاغلي صلاح الدین رباني سره اولیدل: دیرشم نومبر دوه زره دیارلسم ، کابل[7]

ښاغلي صلاح الدین رباني، څوک چې د صلح د اعلي شوره چېرمېن دې سره د یو پلاوي وزیراعظم نواز شریف سره دهغه د کابل د سفر دوران اولیدل.پلاوي هغه ته باور ورکړو چې پاکستان به د افغانستان مفاهمتي عمل کښې خپل مثبت کردار جاري ساتي.افغانستان کښې د امن دپاره دزړه د اخلاصه هلو ځلو باندې د صلح اعلي شوره د وزیراعظم مننه اوکړه.

## د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي جیمز ایف ډوبنز د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د پاره د وزیراعظم د صلاحکار سره اولیدل:دریم دسمبر دوه زره دیارلسم

د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا ځانګړي استاذي ښاغلي جیمز ایف ډوبنز د قامسي سلامتۍ او خارجه چارو دپاره د پاکستاني وزیراعظم د صلاحکار ښاغلي سرتاج عزیز سره اولیدل.دې دوران د پاکستان امریکا په دوه اړخیزه تعلقاتو او خپل منځي زړه خوښۍ په چارو خبرې اوشوې.ملاقات کښې د خارجه چارو سکېټر جلیل عباس جیلاني هم موجود وو.د ښاغلي ډوبنز سره امریکائي سفیر رچرډ اولسن هم وو.
د افغانستان په تناظر کښې دهغه ځائې په پرمختګ ، امنیتي او مفاهمتي عمل او دوه زره څوارلسم نه مخکښې روستو په صورتحال خبرې اوشوې.دې دوران افغانستان مفاهمتي تیزولو باندې زور راوړې شو. [8]

## درې اړخیزه غونډې: ستمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبردوه زره دیارلسم پورې

## د پاکستان افغانستان او برطاینه ترمنځه څلورمه درې اړخیزه غونډه:نهه ویشتم اکتوبر دوه زره دیارلسم ، لندن[9]

د پاکستان افغانستان او برطانئې ترمنځه د درې اړخیزه غونډو څلور دور لندن کښې د اکتوبر په نهه ویشتمه نېټه دوه زره دیارلسم کال اوشو.د غونډې تابیا برطانوي وزیراعظم کیمرون کړې وه او دې کښې د سیمه ایز امن،ترهه ګرۍ خلاف جنګ او د پاکستان افغانستان ترمنځه د اقتصادي مرستو زیاتولو په ګډون یو شمیر چارو باندې خبرې اوشوې.

7. TAPI Technical Advisory Service Agreement (TASA) Signed by Member States, November 26,2013, Ministry of Foreign Affairs Islamic Republic of Afghanistan, http://mfa.gov.af/en/news/tapi-technical-advisory-service-agreement-tasa-signed-by-member-states
8. Kabul trip: Nawaz makes pitch for inclusive settlement, Daily Express Tribune December 01,2013 http://tribune.com.pk/story/639572/kabul-trip-nawaz-makes-pitch-for-inclusive-settlement/
9. Prime Minster Visit To Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs, November 30, 2013 http://www.mofa.gov.pk/pr-details.php?prID=1579

دې دوران درې وانړو مشرانو د افغانستان امن او سلامتۍ کښې د پاکستان په کردار خبرې اوکړې او د دې خبرې سره ئې اتفاق اوکړو چې ډېر زر به د افغانستان د صلح اعلي شوره یو پلاوې د پاکستان سفر کوي چرته چې به دوي د ملا برادر سره ویني.
دا فیصله هم اوشوه چې دپاکستان افغانستان د داخله چارو وزیران به هم ډېر زر یو ملاقات کوي چې پکې به د د پولې نه اوړېدو راوړېدو لارو او د دې امنېت ټینګولو په چارو غور کوي.
د دې خبرې سره هم اتفاق اوشو چې د ترهه ګرو پټنځایونو ختمولو کښې به د یو بل مرسته کوي.
د تجارتي او ترانزتي مرستو په اړه د پاکستان او افغانستان مشرانو ټینګار اوکړو چې د کنړ په سېند شریکه د اوبو نه بجلۍ پیدا کولو منصوبه ضروري ده دا شان کاسا ۱۰۰۰ او تاپي منصوبې هم باید چې بشپړ کړې شي.درې اړخیزه غونډه کښې پاکستان د دې خبرې تسله هم ورکړه چې د افغانستان راتلونکې ټولټاکنو کښې به د امنېت ټینګ ساتلو لړ کښې خپل پوره پوره کردار ترسره کوي.وزیراعظم نواز شریف د افغانستان جمهور رئېس لخوا د کابل د دورې بلنه هم قبوله کړه او وې وئیل چې هغه به راتلو اوونو کښې د افغانستان سفر کوي.

## د پاکستان افغانستان نورې ناستې:دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت نه تر دسمبر پورې

### د دفاعي چارو دپاره د پاکستاني سېنټ یو پلاوي د سنېټر مشاهد حسېن سید په مشرۍ کښې د کابل دوه ورځني سفر اوکړ: لسم یوولسم ستمبر دوه زره دیارلسم کال، کابل[10]

د پاکستاني سېنټ د دفاع او دفاعي پېداوار دپاره جوړې کړې شوې کمېټۍ په رومبي ځل د افغانستان د مشرانو جرګې د کورنۍ سلامتۍ او ځائي انتظامیې دکمېټۍ سره د ستمبر په لسمه او یوولسمه نېټه دوه زره دیارلسم کال کښې کابل کښې مذاکرات اوکړه.
دوه ورځني مذاکراتو تابیا کولو کښې پلډاټ آساني پېدا کړې وه، او دې دوران د دوانړوملکونو ترمنځه په دفاعي مرستو او د امنیت په ګډون دوانړو هیوادونو ته په وړپېښو ننګونو،د پولې دوانړو غاړو ته ترهه ګرۍ، قاچاق، د پولو انتظام ، دوه زره څوارلسم کښې افغانستان نه د خارجي قواوو د وتنې ، افغانستان کښې مفاهمتي عمل او د پاکستان افغانستان دفاعي کمېټو مذاکرو باقاعده کولو په چارو خبرې اوشوې.
د دوانړو ملکونو د دفاعي کمېټو مذاکرو ته عملي او باقاعده شکل ورکولو دپاره یو مفاهمتي یاداښت هم لاس لیک شو.

### د افغانستان د مشرانو جرګې یو پلاوي د سنېټر سید فرخ شاه جناب په مشرۍ کښې د پاکستان دوه ورځني سفر اوکړو:څلیرشتم پنځه ویشتم ستمبر دوه زره دېارلسم کال، اسلام آباد[11]

د افغانستان د مشرانو جرګې یو پلاوي د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو په نهمه مذاکره کښې د ګډون دپاره د دوه زره دیارلسم کال ستمبر میاشت په څلریشمته او پنځه ویشتمه نېټه د پاکستان سفر اوکړو.دامذاکره چې د پلډاټ په مرسته پاکستان افغانستان پارلیماني فرېنډ شپ ګروپ تابیا کړې وه پکښې د پاکستاني ډلې مشري سنېټر افراسیاب خټک کوله. د افغانستان د ډلې مشري د مشرانو جرګې سپکتر ښاغلي سنېټر فرخ شاه فاریابي جناب کوله.

### د افغانستان د اولسي جرګې غړو د پاکستان دوه ورځني سفر اوکړو او دلته ئې دخپلو سیالو سره اولیدل: رومبې دویم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال، اسلام آباد

د افغانستان د اولسي جرګې  غړو دپاکستان دوه ورځنۍ دوره اوکړه او دلته ئې دخپلو سیالو سره اولیدل.د دوانړو هیوادونو د پارلیماني ډلو ترمنځه دمذاکرو لسم دور اسلام آباد کښې د اکتوبر دوه زره دیارلسم کال په رومبۍ او دویمه نېټه اوشو.دا مذاکره چې د پاکستان قامي اسمبلۍ کښې د دوانړو هیوادونو فرېنډشپ ګروپ لخوا د پلډاټ په مرسته تابیا شوې وه مشري ئې د پاکستان لخوا د قامي اسمبلۍ غړي آفتاب احمد خان شېر پاو او د افغانستان لخوا د اولسي جرګې ډپټي سپیکر میروېس یاسیني کوله.[12]

10. US Special Representative on Afghanistan &Pakistan called on National Security Adviser, December 03, 2013, Islamabad http://www.mofa.gov.pk/pr-details.php?prID=1581
11. Afghanistan-Pakistan-UK 4th Trilateral Summit Held in London, October 30,2013 ,Office of the President Islamic Republic of Afghanistan http://president.gov.af/en/news/25833
12. Pakistan-Afghanistan Defence Committee's Dialogue, September 10-11, 2013 http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=644

## افغان اولسمشر ښاغلي حامد کرزئی د عوامي نشنل ګوند د مشر اسفندیارولي خان سره اولیدل: لسم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال، کابل[13]

دعوامي نشنل ګوند مرکزي مشر ښاغلي اسفندیار ولي خان د اکتوبر په لسمه نېټه کال دوه زره دیارلسم صدارتي محل کابل کښې دافغانستان دجمهور رئیس حامد کرزيی سره اولېدل.

په دې موقع ښاغلي غلام جیلاني پوپل، سفیر ښاغلي معروفي، ښاغلي زلمي خلیل زاد او د عوامي نشنل ګوند سنېټر افراسیاب خټک هم موجود وو. افغان اولسمشر دعوامي نشنل ګوند لارښودنه ته په راتلونکي لنډه موده کښې افغانستان کښې رامخې ته کېدونکي مختلفو بدلونو نو پحقله احوال تېر کړو.ده زیاته کړه افغان امنیتي ځواکونو د خپلې مورنۍ خاورې د حفاظت زمه واري ترلاسه کړېده او دوې کولې شي د افغانستان نه دامریکائي قواوو د وتو روستو هر قسمه صورتحال مقابله اوکړي.د ده په خبره د ملکي اقتصاد ښه کولو دپاره دوي منصوبه بندي کړېده او بعضې داسې مثبت اقدامات ئې کړي چې ورسره به د افغانستان معیشت مستحکم شي.د ده وینا وه چې افغانان به راتلونکي کال خپل نوې اولسمشر او د پارلیمان غړي ټاکي.ده هیله څرګنده کړه چې داسې وخت کښې به د پاکستان او افغانستان د مشرانو ملاقاتونه ډېرې ګټې راوړي او ورسره به دوانړه ملکونه دد ي جوګه شي چې د شریک دښمن په ضد مشترکه هلې ځلې اوکړي.

په دې موقع ښاغلي اسفندیار ولي خان اووئیل چې پاکستان کې ټول جمهوري قوتونه د افغانستان مفاهمتي عمل پوره پوره مرسته کوي.د ده وینا وه چې دوانړه هیوادونه به خپل منځي مسلې یو بل سره په مرستو هوارې کړي او دوانړه به د امن دپاره په شریکه سره کار کوي.

## جمهور رئېس ښاغلي حامد کرزئی د پاکستاني جمیعت علما اسلام ګوند د مشر سره اولیدل: یوولسم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال، کابل[14]

د جمیعت علما اسلام پنځه تني پلاوي د اکتوبر په یوولسمه نېټه د کابل سفر اوکړو چې مقصد ئې د دوانړو هیوادونو د اولسونو ترمنځه رابطې زیاتول وو.د مولانا فضل الرحمان په مشرۍ کښې تللي دغه وفد کښې جان اچکزئی چې دJUI-F داطلاعاتو سېکتر دې، مولانا ګل نصیب خان مرکزي نائب صدرJUI-F ، مولانا عبدالواسیع د صوبائي اسمبلۍ غړې او مفتي ابرار کوارډینېټر JUI-F شامل وو.

مولانا فضل الرحمان کابل کښې د صلح اعلي شوره د پلاوي سره هم اولیدل او ورسره ئې د افغانستان په صورتحال کښې د جمیعت علما اسلام او نورو مذهبي جماتونو په کردار خبرې اوکړې.دوي د افغانستان جمهور رئېس ښاغلي حامد کرزئی سره هم په صدارتي محل کښې ملاقات اوکړو. دې دوران د افغانستان حکومت بعضې لوړ پوړي چارواکي، وزیران او د صلح اعلي شوره غړي هم موجود وو.

روستو د صدارتي محل لخوا یوه شریکه خبرپاڼه جاري کړې شوه چې پکښې وئیل شوي وو دوانړو مشرانو د ترهه ګرۍ ختمون دپاره د مرستو غږ کړې.

13. Pakistan-Afghanistan Parliamentarians' Dialogue-IX, September 24-25, 2013 http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=651
14. Pakistan-Afghanistan Parliamentarians' Dialogue-X, October 01-02, 2013 http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=655
15. Asfand meets Karzai in Kabul, Daily The Nation, October 11,2013 http://www.nation.com.pk/pakistan-news-newspaper-daily-english-online/national/11-Oct-2013/asfand-meets-karzai-in-kabul



پلڈاٹ

پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپیرینسی


اسلام آباد آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان

لاہور آفس: 45-اے سیکٹر 20 سیکنڈ فلور فیز III کمرشل ایریا، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور

ٹیلیفون: (+92-51) 111-123-345 فیکس: (+92-51) 226-3078

E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org